دمقالی لیکونکی : کوون هالینان (Conn Hallinan).
منبع اود خپریدو نیټه :کونټر پونچ «۲۰۱۳-۵-۳۰».
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
-----------------------------------------------------------------------

# افغانستان : آیا په ریښتیا سره دا دلوبی پای دي ؟

Afghanistan : Is It Really The End Game?

«له هغه ځا یه څخه چی بین المللی نطا می ایتلاف په افغانستان کی په تتدریجی بڼی سره غواړی خپل نظامی ماموریت پای ته ورسوی نوددوشنبی په ورځ په پا کستان کی خوتنو په سلاح سره سمبال د نا تو پنځه لاری ته اوروا چول کوم چی دناتو دنظامی قوتونونظامی تجهیزات له افغانستان څخه لیږدول .داهغه مطلب دی کوم چی یوی رسمی منبع په ډاګه کړ» .

دفرانس پرس آژانس .۳/۱/۱۳

دلته دکوم ښه شی دیادولو نه دی بی له دی چی دامریکی متحده ایالا ت د غښ پا ئکی په لګښت سره سره په دغه اوږد جګړه کی کوم چی هغه غوښتل چي په غلچکی یرغل سره دغه سیمه له دوزخه څخه وباسی دپوره ناکامی سره مخا مخ دی اوپه عین وخت کی دبلوچستان سقوط داپریل د میاشتی په لمړی نیټه کی له زیاتو اړخونو څخه دامریکی متحده ایالاتو اوناتو د پار یو ښکاره بحران دی کوم چی هغوی دهغه دپاره چمتوالی نه درلود :دساعت د ټک ټک سره جوخته ترکال«۲۰۱۴» دایتلاف د سرتیرو په تتدریجی راکمولو سره سره هغوی یعنی امریکا اوناتو نه د کوم رسمی مذاکری د پاره چمتوالی لری اونه هم د کوم معین ستراتیژي پلان په لاس کی لری کوم چی وشی کړای څرنګه هغوی له دی ګړنګ څخه راوباسی.

«زه لا تر اوسه پوره نه پوهیږم چی ایازمونږ بین المللی ټولنه اودافغانستان دولت داسی کوم یو پروګرام به را تنظیم کړی وی چی دهغه په رڼا کی ټول هغه حالات چی په کال « ۲۰۱۴» سره په ګډه را مینځ ته کیږی سره وشی کړی ټول حل اوفصل کړی لکه : انتخابات «ټول ټاکنی» ، نوی جمهور ریس ، اقتصادی ګذار او نظامی انتقال - او دسولی دپروسی دپاره مذاکره کوم چی لا تر اوسه نه دی پیل شوی .» دا هغه څه دی چی برناردباجولیت (Bernard Bajolet) پخوا په کا بل کی د فرا نسی سفیر او اوس دفرانسی دباندنیو اطلاعاتو د سروس مشر په یو خبری ناسته کی راڅرګند کړ .

داوباما اداره په کال «۲۰۰۹» کی افغانستان ته (۳۰۰۰۰) اضافی سرتیری ولیږل کو چي داوباما هدف داوه چي دافغانستان په جنوبی سیمو کی د کوکنارود کرکیلی مخه ونیسی پر طالبانو باندی فشار زیات کړی ترڅو چي هغوی تسلیم شي اودجګړی څخه لاس واخلي ، اما دهیواد جنوبی ولایتونه لکه هلمند اوقندهار نه یواځی داچي هلته تیکاو تر سترګو نشو بلکه دواړه ولایتونه د شورشیانو تر کلک نفوذ اوولکی لاندی پریوت ، اوهغه لا څه چی دهیواد په آرامو سیمو کی یعنی په غرب اوشمال کی نارامی هم خپل لمن وغوړول .

د لته دیادونی بل مهم مطلب دادی اوهغه داچي په استثنا د امریکی د متحده ایالاتو د اوسنی قوماندان څخه پرته نوردی پا یلی ته رسید لی دي چي دغه په افغانستان کی روانه جګړه دټول زید خلو اوککړو خواوته بی له یومصیبت اویو ناورین بل شی نه دی. افغانان دجګړی په دي (۳۰) کالو کی تقریباً خپل دوه میلیون وګړی دلاسه ورکړل او هم ډیرو نورو افغانانو د مجبوریت له مخی له افغانستان څخه کډه وکړل او په پردیو هیوادونو کی مهاجر شو ،د بلی خوا څخه د بین المللی قوانیو داداری یو مسول مقام د نیویارک ټا یم سره په یو خبری مرکه کی داسي څرګندونه وکړل اوهغه داچي افغانستان په نړی کی یو له لمړنی د مخدره توکو هیواد منل شوی دی ،اودنړیوال بانک د راپور له مخی په افغانستان کی تر (۳۶ ) په سلو کی افغانان دنیستی د خط تر لاندی پریوتی دی اوهم تقریباً (۲۰) په سلو کی افغانی کوچنیانو مخکی له دی چی پنځه کلنی عمر ته ورسیږی له دی نړی څخه سترګی پټوی .

دیو بل راپور له مخی دافغانستان په جګړه کی دهغه پیسی اندازه چی دامریکی دمتحده ایالاتو د ما لیی ورکونکو له طرفه تا د یه او مصرف شوی دی تراوسه پوری تقریباً ( ۱،۴ )تریلیون دالروته رسید لی دی همدارنګه په دی تازه وختونوکی یوراپور ورکونکی سرچینه داسی په ډاګه کړی چی د افغانستان اودعراق د خلکو د وژلو او قتل العام کولو دپاره لا تراوسه تقریباً (۶) تریلیون ډالر لګول شوی دی . د بلی خوا څخه د لسیزو په اوږدو کی دناتو دایتلاف ډیرو غړو ته د پاکستان د هستوی سلاح د بی امنی تشویش او دالقاعده په څیر دسازمانانو دلمن پراخیدل په مینځنی ختیځ او د افریقی په وچه کی را پیدا کړی دي .

دیو را پور له مخی یواځی یو امریکایی جنرال جوزف دانفورد (مبارز جوزف ) کوم چی هغه دایساف قوماندان اومشر دی هغه داسی فکر کوی چی هغوی د طالبانو سره په روانه جګړه کی ګټونکی دی ، اوهغه داچی له هغوی څخه وروسته دا دافغانستان روزل شوی اردو دی چی په پوره باوراود تعهد په ورکولوسره کولای شی ډیر نژدی بریالیتوبه تر لاسه کړی حال داچی د طالبانو له خوا په تیر کال کی د یرغل فیصدی تر (۷۰) په سلوکی اودافغانستان د سرتیرو اود پولیسو تلفات (۴۰) په سلو کی اود سرتیرو دفرار کچه (۳۰) په سلو کی تثبیت شوی فیصدی او ارقام دی .

دتیوری له مخی ، دایساف قوتونه اوسرتیری په کال (۲۰۱۴) کی غواړی چي له افغانستان څخه پښی سپکی کړی او جنګ جګړه دافغا نستان اردو اوپولیسو ته وسپاری چی دشورشیا نو سره په جنګ جګړه کی راښکیل شی لکه هغسی چی اوس دافغانستان اردو ته د مید یا دلاری د دند و لیږدول ښول کیږی ، دبلی خوا څخه په دی تازه وختونو کی دافغانستان داردو یو ضربتی جزوتام د هیواد ختیځ خواته ولیږدول شو تر څو چی دافغانستان د کمزوری ( مذ ب ذ ب) دولت اودهغه داردو مورال را معلومه کړی اوبیا دامریکی د سپین مانۍ واکداران په دی هکله په یو بشپړ مطبوعاتی مرکه کی ګډون وکړی اودهغسی یو ستراتیژی په لټه کی وشی کوم چی پخوا په وار وار د ما تی سره مخامخ وه یعنی داسی یوناکامه ستراتیژی را غوره کړی کوم چی لکه دپخوا په سیر یوه ناکامه ستراتیژی وه.

دیادونی وړ مطلب یو هم د(مرکی اودیرغل تکتیک ) دی کوم چی دامریکایی ماهرانو یوډول پالسی جوړوی اوهغه څه دی چی د زیا تو تلفاتو سبب کیږی اود خبرو اترو دپاره لاره په ټپه دروی او په واقیعت کی یو ډول د تعجب وړ سیاست برېښی او داځکه چی دا ډول پالیسی په افغانستان کی هیڅ چلش نه لری اود افغانستان له فرهنګ څخه بلکل بیګا نه او پردی دی .

دلته اوس دخبرو اترو دپاره غټه ستونزه دادی چی دشرایطو د نه په نظر کی نیولو سره دمذاکری دپاره یولړستونزی ترسترګوکیږی لکه طالبان دی ته هڅول اویا مجبورول چی دافغانستان د (۲۰۰۴) کال اسا سی قانون ومنی له خشونت اوله ترووریزم څخه بلکل لاس پرسر شي .

اما دطالبانو ادعا دادی چی دافغانستان اوسنی اساسی قانون د پردیو اود بیګا نګا نو په واسطه سره لیکل شوی چی مونږ ته کوم ارزښت نه لری مونږ غواړو چی په افغانستان کی دافغانونو د پاره مونږه پخپله اساسی قانون ولیکو اوبیا پرهغه باند ی عمل وکړو اودتروریزم په اړه طالبان وایی چی مونږ خپل نظرپنځه کاله د مخه څرګند کړی دی .

د لندن د کنګ کالج پروفیسور اناتول لیبین(Anatol Lieven) دنوی امریکی په نهاد یا انستیتوت کی څیرنمل او محقق اودافغانستان په هکله یو برجسته انګلیسی لیکونکی مقاله نویس داسی څرګندوی : « امریکایان هغه خلک دی چی په یوه ګوښه کی په نه شلیدونکی او دوامداره بڼی سره دخپل له دښمنی نه ډک مخا لف سیا ست او نظریو ته رنګ ورکوی اودهغه په نقاشی کی سره بخت دی . »

چی دا پخپل وارسره اوس په یوډول باور با ندی اغوښتی دی اوهغه دا چی دامریکی هردښمن هرومروبا ید شیطان وګڼل شی ،کوم چی داپخپله نه یوائی داچی دسخت دریزو مخالفینو سره دجوړ جاړی یوعملی ګام نه ګڼل کیږی (او بیا په ډ یر شرمونکي بڼی سره هم غواړی چی باید هرو مرو تر سره شي ) بلکه دا پخپله په اګاهانه او یا غیر اګاها نه ډول دامریکی دولت اوټولنیز رسنیو ته دا اجازه ورکوی چی دامریکی عامه خلک ړوند

وبولی اواکثراً خپل ځان اوخپل متحد ین کوم چی پخپله شیطا نان دی دخلکو له سترګو څخه خوندی وسا تی .

د مثال په توګه دامریکی متحده ایالات نه غواړی چی دحقانی د ګروپ یعنی دطالبانو د متحد سره په خبرو کینبنی یعنی دهغه چا سره کوم چي دناتو په واسطه د افغانستان داشغال سره یوډیر قوی نظامی مخا لف ځواک دی او یا هم په ورته بڼي دایران سره کوم چی تهران په کال (۲۰۰۳) کی د بن دکنفرانس دسازمان ورکونکی اصلی لوبغاړی وه چی دهغه په مرسته سره په کابل کی د افغانستان ننی دولت را مینځته شو اودبلی خوا څخه ایران هم غواړی چی د افغانستان په دی روانه جګړه کی خپل مشروع ګټی هم په نظر کی ولری اوداځکه چی واشنګټن دپاره اوپیوم اوهیروین کومه غټه ستونزی نه برینبی اودا په دی معنی چی واشنګټن د افغانستان د دولت د متحدو ومخد ره موادو قاچاق وړنکی جنګ سالارانو ته خپل ړوند سترګی اړولی دی حال داچی هیروین اودهغه سره عادت اواعتیاد په روسیه او ایران کی یو لوی روغتیایی ستونزه بلل کیږی .

دا په روښا نه توګه لا ندی معلوم چی وروسته له (۲۰۱۴) څخه په افغانستان کی به څه را پیښیږی ؟ هغه وخت چی ممکن د امریکی د متحده ایالاتو دسرتیرو جزوتامونه له افغانستان څخه دنا تو اودافغان ددولت د اولسمشر «حامد کرزی» د ګډ تړون له مخی ووځی او دامریکی دځانګړی ځواک څو زره تریناران ، « دسی آی ای» پرسونل او دافغانستان په دننه د امریکی په (نهو) نظامی اډوکی به څومره سرتیری پا تی کیږی..
هغه موافقه کوم چی دهغی په ترڅ کی د می د میاشتی په «۱۶» نیټه کی د کابل دښار په مینځ کی په دله ایز بڼی سره د ځان وژنی په روند کی (۶) امریکایان ، او (۱۶) افغانان خپل ژوند دلاسه ورکړل ، اود چاودنی مسولیت د ګلبدین حکمتیار اسلامی ګوند په غاړه واخسیت . اود کابل په شا وخوا کی د ګلبدین پوری تړلی میشته شورشیان دهغه ویاړنی تر لاسه کړل .

هغسی یویرغل چی د موافقی د تړونوالو دپاره دهغه هیرول ستونزمن ښکاري .
دحیرانتیا خبره خو دادی چی دیوی خوا څخه د حزب اسلامی شورشیان انتحاری بمونه والوزول اود بلی خوا څخه د نوموړی ګوند سیاسی اړخ دحامد کرزی په کا بینه کی غټی چوکی تر لاسه کړی لکه د ښونی او روزنی وزیر اود حامد کرزی لوی مشاور، یوه بله مهم مطلب دادی چی پخپله حکمتیار داسلامی ګوند مشرد ملا محمد عمر دافغانی طا لبانو د مشرسره په دی جوړ جاړی راغلی کوم چی هغه هم باید دافغانستان دشخړی په سرته رسولو کی دمذاکری پر میز کینبنی نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره هغه د خپل شتون د پاره دغه بمی چا ود نه دیو ما نور په بڼه پکار ویوړل او د مرکی تږلو خواو ته داسی وښودل چی مونږ هم لا تر اوسه په قوت کی یاستو. حکمتیا ر لا پخوا هم نا تو ته دمذاکری د پاره بلنه ورکړی وه .

طالبانو پخپله په څو اړخونو سره ویشل شوی دی ، یوه هغه ډ لی دی چی هغوی

غواړی امریکا یا ن ترور کړی کوم چی په لوړ موقف کی قرار لری او بله ډله یی مینځنی موقف لری چی په غیر متمرکز سازمانو یود بل سره تړلی دی یعنی ځنځیری اړیکی لری اوپا تي ډ له یی هغه ډیری سیمیز ګروپونه دی چی لرونکی دمختلفو نظریو او سیا ستونو دی .

د حقا نی ګروپ غړی کوم چي ډیر ځواکمن ګروپ دی دپاکستان په دننه کی میشته دی اود پاکستان داردو اوبیا په ځانګړی ډول د ( آی اس آی ) سره ډیر نژدی اړیکی لری یعنی هغوی دواړه یو د بل شا موړ.ی یا سره توړي اوهریوپه دی نظر دی چی دجګړی پای او پایل باید د حقانی او د« آی اس آی» په خوښه سره تر سره شی یا په بل عبا رت هیڅ یو موافقه د افغانستان دجګړی د ختمیدو د پاره بی ددی دواړو له موافقی سره نه باید تر سره شي .

داوباما اداره په عوض ددی چی موجوده حالات او واقیعتونه پوره درک کړی اویا د حقیقت له عینکو څخه وځاری د واقیعتونو له درک څخه تښتی او ځان ناګار اچوي یعنی دحقانی ګروپ په نظر کی نه نیسی ، ایران څنډی ته تیل وهی او دپاکستان د خلکو دغوښتنی پرضد بیاهم خپل د بی پیلوټو الوتکو جګړی ته په سیمه کی پراختیا ورکوی. دموجوده حالاتو دپیچیلتیا سره سره بیاهم دحل لاری شته چی باید دغه جګړی ته د پای ټکی کیښودل شی اما په هغه صورت کی چی د امریکی د سپینی ماڼی واکداران پخپل سیا ست او نظر کی یو څه تغیر راوړی : لمړی : هرڅومره زر باید د (ډزی اود خبرو ) سیاست ته دپای ټکی کیږدی او دخپل جنرال دانفورد پرتی ویلو( چټایت ویلو) ته خاتمه ورکړی اودهغه پر خوله باندی غټ برغولی کیږدی په هغه صورت کی چی دامریکی متحده ایالات اوس اوس نشی کولای چی د شورش او د شخړی دڅپي مخه ونیسی نو هغه به په کمو شمیر سرتیرو به څنګه وشی کړلی چی دا جګړه ودروی ؟ غیر ددی نه چی په دوامدار ډزو سره دافغانستان ډیری شمیر ساتونکی او پولیس ژوند دلاسه ورکړی اود غیر نظامی خلکو د تلفات کچه لوړ کړی نور څه شی به تر لاسه نکړی نو په دی صورت سره امریکی نه باید د مذاکری او مرکی مخه ونیسی اویا په سبو تا ژ با ندی لاس پوری کړی .

دانګلیسی محقق اولیکوال ښاغلی لیبن (Lieven) د نقل قول په حواله ، طالبان دسپینی ماڼی په پرتله د سیمی د روانو حالاتو په اړوند ډیر واقعبینا نه دریځ لری ، هغه وویل چی مونږ دتیرجولای په میاشت کی دیو ګروپ پوهوو ماهرانو او اکاد میسینا نو سره په ګډه فارس خلیچ ته سفر وکړل اود طالبانو د یوشمیر پیژندل شوی څیرو او شخصیتونو سره مو له نژدی لید نه کتنه وکړل . لیبن داسی را څرګند کړ : اووویل چي دسیمی د حالاتو په اړه د طالبانو سره ډیر پراخ اوهر اړخیز شناخت او پیژند ګلوی موجود وه اوهغوی ددی توان در لودل چی دافغانستان په سهیلی او ختیځ برخو کی خپل مبارزی ته په یو نامحدود بڼی سره په مخ بوزی اما هغوی هیڅکله دا توان نه لری چی په ټول

هیواد کی تسلط تر لاسه کړی یا هغوی نشی کولای چی ټول هیواد تر خپل ولکی لاندی راولی اګرچه دسیمی (۳۰) په سلو کی خلک دهغو څخه ملاتړ کوی ، دیادونی وړ مطلب دادی چی په دی نژدی وختونو کی کوم چی داسیا دبنیاد په واسطه سره یو نظر سنجی تر سره شوی د هغه څه چی مود لیبن وینا پورته ذکر کړ سره پوره ورتوالی لری .

داچی طالبان دکرزی سره نه غواړی چي مذاکره وکړی یا دهغه بلنه رد کړل په دی هکله لیبن وویل :طالبانوزمونږ.هییت(زمونږ ګروپ) ته وویل:چی نوربه په افغانستان کی بیا به هیڅکله دملایانو خا لص اونګه دولت به مینځ ته رانشی همدارنګه هغوی زیاته کړل چي طالبانو شاید په افغانستان کی دامریکا د نظا می اډوپه هکله کوم چی تر (۲۰۲۴) پوری به دلته په افغانستان کی پا تي شی په کتنو بخت دی اما وروستی جوړ جاړی ایرانیان ـ چینیان او روسا ن نه خوشحا لوی هغوی د حزب اسلامی څخه نوم وانخیستل اما دهغو دخبرو له محتوی څخه دافغانستان په سیاست کی د یو ډول ډ یر ژور فیلسوفا نه دریځ انعکاس ذهن کی را وچتول یعنی چي د معاملی دکمښت یوه لاره .

دا چی طا لبا نو د کابل دحکومت سره خبری اتری ردوی اویا دنوموړی دولت سره مذاکره رټی په دی معنی دی چی په راتلونکی کال په افغانستان کی دنوی جمهور ریس ټولټاکنی تر سره کیږی چی دا پخپله د مرکی د کار نقشه شا ته اچوی کوم چی په قوی احتمال سره کیدای شی چي یو نابللی پیښه وګڼل شی ، د ټولو د پاره دا ډیر ښه وه چی دافغانستان د اساسی قانون د مندرجاتو په نظر کی نیولو سره دغه مرکه ترسره شوی وای خوله بده مرغه د طا لبا نو دادعا پر بنسټ اوهغه هم د نوی اساسی قانو تر جوړید و پوری طالبانو غواړی چي مذاکره اوخبری اتری شا ته وغورځول شی .

د بلی خوا څخه دلته یو لړ زیات مختلف موضوعات تر سترګو کیږی کوم چی ممکن وروستنی موافقه به تر پښو لاندی شي اوهغه داچي دلته ډیر لوبغاړی د خپلو مختلفو اجندا او پروګرامونو سره بی له دی چی دهغو آدرس ته پام و ساتل شی اویا دخلکو د قناعت زمینه را مساعده کړی غواړی چی د افغانستان د موجوده شخړی د حل د لاری د مذاکری په میز کی ځانته ځوکی تر لاسه کړی او په مذاکره کی ګډون وکړی حتی هغوی کوم چی د یو لړ نابېره او ناورین کړنو په کولو سره په قد رت کی د برخه اخیستو څخه هم منع کړل شوی وه .سربیره پر هغه ایرا ن ،هندوستان ،چین ، روسیه ، ترکمنستان ، ازبکستان او ترکمنستان هم غواړی چی د مذاکر په میز کی کیښیني.

اود سپینی مانی واکدارانو ته د داسی یو ضرورت احساس را پیدا شوی کوم چی غواړی خپل د ټوپک کنداغ لری او خوندی وسا تی ، اوهم د افغانستان جمهور ریس کوم چی په دی تازه وختونو کی له هنده د نظامی تجهیزاتو دراپیریدلو څخه په خوشحالی سره وطن ته راستون شوی له هند څخه غوښتی دی چی دخپل ماهرانوشتون په افغانستان کی لا پسی زیات کړی کوم چی دا پخپله دپاکستان اود چین د پاره ښه خبره نه ښکاری او دهغو د زغم وړ نه دی او اسلام آباد دا توان لری چي په افغانستان کی د خپلو پلویانو

په واسطه سره د شرار ت لمن لاپسی وغوړوی .

په پاکستان کی دافغانستان دپاره مورچه(سنګر) نیول دکارل مارکس هغه مشهورضرب المثل چی دتاریخ په هکله ویلی یی وه د سړی په ذهن کی را ژوندی کوي کوم چی هغه داسی ویلی وه : تاریخ لمړی دتراژدی په بڼه را پیښیږی اوبیا وروسته دلوبی په بڼه کوم چی ډیر خندونکی وی خپل مخ راښکاره کوی .

دمارکس دپورتنی ضرب المثل په پام کی نیولو سره په تاریخی لحاظ د لمړی ځل دپاره دغه اتفاق په کال (۱۸۴۲-۱۸۳۹) کی دافغان – انګلیس په لمړی جګړه کی را پیښه شو کله چی افغانانو له کابل څخه په یو خونړی یرغل د هند شرقی کمپنی پر عسکرو باندی تر سره کړل او سیمه یی تر خپل ولکی لاندی راوستل نو د جګړی په اوږدو کی د انګریزانو له (۴۵۰۰) سرتیری او (۱۲۰۰۰) غیر نظا میا نو څخه یواځی دجراحی یومرستند و ژوندی ځان تر جلال آباد پوری ورسول اوبس نور ټول خپل ژوند دلاسه ورکړل .

په حاضر وخت کی اوس یوه تازه مورچه اوسنګر چی د دی ډرامه یوعنصر را جوړوی هغه دادی چي ځلور نفر په سلاح سره سمبا ل موټر سیکل چلونکو هغه لاری چی ناټو ته نظامی تجهیزات انتقا لول دروی ، لمړی پر هغو لاریو باندی پطرول شیندی اوبیا وروسته پرهغو اور پوری کوی لاری له یوسره په لمبو کی سوځوی کوم چی د پیښی په پای کی یواځي یوه موټرچلونکی د یوڅه خفیف زخمونو په درلودو سره ژوندی را پاتی کیږی .

دافغانستان دروان جګړی په اړین په پایله کی اوس د کوم یو اړدوړ(هرج ومرج) ضرورت نه لیدل کیږی اوهم ددغه خونړی جګړی ددوام دپاره کومه رغنده دلیل هم نه ترسترګو کیږی او ټول ککړ خواوی او ګوندونه ددی جګړی په دوام سره د کوم تغیر نښی اونښا نی هم نه وینی نو اوس یی وخت را رسید لی چی ددی جګړی په اړه نیتونه بڼه کړل شی او دامریکی د سپین ماڼی واکداران دی باید ددی جګړی د ختمیدو د پاره ښه ګا مونه اوچت کړی اوپه ننی تاریخ کی بیا په ځانګړی ډول دی جګړی ته د پای ټکی کیږدی ---------------------------- په درنا وی